مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۲۵

# غزل

توره شپه خوره کړي، شمعه پټه له پتنګه شي
کرکه زما زیاته نوره هم له دغه جنګه شي

تا تولي خبرې راته بیا په خندا وکړې خو
دغه راته وایه د سبا وعده به څنګه شي

ته خو ښه پوهیږې خو بیا هم د ناز خبرې کړې
دغسي نازو ته زما ژر حوصله تنګه شي

زه یې په زړه لاس کیږدم، د زړه درزا یې واورمه
هغه چې په ناز زما په غیږه کې را ړنګه شي

ماته په یادګار د زلفو درې تارونه پریږدي ځي
زړه نازړه غرمه چې مې روانه له پالنګه شي

ته به هم زاهده زور د مینې ته لاس پورته کړې
تاته په خندا که چیرې ښکلې غنمرنګه شي

ته به وایې دلته د انسان روح قبضه شوې ده
کله چې زموږ کلي محروم د ډول له ډنګه شي

۲۰/ ۷/ ۱۳۹۲
کابل
علم گل سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ